مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لړم لومړۍ | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۲۳مه | ۴۵۰مه ګڼه
2 017550 139621


# د ټاکنو نامعلوم برخلیک؛

## کمېسیون د ټاکنیزو ټیمونو له لانجو او خپلمنځیو اختلافونو سره مخ دی



۳

## کتاب

۴ مخ

### افغانستان، پاکستان، هندوستان یو بنسټیز بدلون



دا کتاب د تېرو دوو لسیزو پر مهمو پېښو رڼا اچوي، چې له کورني اړو دوړ نیولې بیا د طالبانو تر رژیم پورې او د سپټمبر د یوولسمې له پېښې وروسته د امریکا متحده ایالاتو برید او پر سیمه یې اغېزې په بر کې نیسي.

### په لوګر کې ۲۵۰ کورنیو ته ۱۰۰ د چرګانو فارمونه جوړ شوي



د کرنې وزارت د بډوالۍ او مالدارۍ ملي برنامې «NHLP» لهخوا د بېوزله کورنیو د ملاتړ په لړ کې، دا ځل د لوګر ولایت مرکز پل علم او د دغه ولایت په برکي برک او محمدآغې ولسوالیو کې، د ۲۵۰ بېوزله کورنیو لپاره د هګیو چرګانو ۱۰۰ قطعه یې فارمونه جوړ شول. د لوګر د کرنې ریاست په خبره، د دې ترڅنګ د یاد ولایت ۵۰ نورو کورنیو ته د غوښینو چرګانو روزنې ۵۰۰ قطعه یې نیمه سوداګریز فارمونه هم جوړ شوي دي.

د لوګر د کرنې ریاست چارواکي وایي، پر دغو ۲۵۰ بېوزله کورنیو ۲۵ زره قطعې د هګیو چرګان، د چرګانو خوراکي توکي، واکسینونه، درمل او نور اړین توکي وېشل شوي دي. د دوی په خبره، د لوګر په مرکز پل علم او د دې ولایت په برکي برک او محمدآغې ولسوالیو کې د۲۵۰ بېوزله کورنیو هرې کورنۍ ته ۱۰۰ د هګیو چرګان او د چرګانو ۶۰۰ کیلوګرامه خوراکي توکي هم ورکړل شوي دي.

### د سولې په تړاو وروستي بدلونونه او چانسونه

۲ مخ

### د ټاکنو د روڼوالي لپاره د رایې ورکوونکو له نوملړه ۴۲۷ زره کسان حذف شوي دي

۲ مخ

### د اقتصادي سیاستونو مفهوم او پېژندنه

۳ مخ

### امریکايي رسنۍ: پنټاګون له افغانستانه د ټولو ځواکونو وتلو ته تیارۍ نیسي

د امریکا دفاع وزارت له افغانستانه د خپلو ټولو ځواکونو احتمالي وتلو ته چمتووالی نیسي.

د امریکا اېن بي سي خبري شبکې د دغه هېواد د یوه لوړپوړي چارواکي له خولې لیکلي، که څه هم پنټاګون له افغانستانه د ځواکونو وتلو په تړاو د ټرمپ له لوري کوم امر نه دی تر لاسه کړی، خو بیا هم د احتمالي وتلو لپاره پر چمتووالي بوخت دي.

په راپور کې راغلي، لکه څرنګه چې ټرمپ د سوریې له شماله د خپلو ځواکونو د وتلو فرمان ورکړ، کېدای شي چې د افغانستان په تړاو هم همدې ته ورته پرېکړه وکړي.

په راپور کې ویل شوي چې حتی د یوې اونۍ په ترخ کې وتلو ته هم چمتووالی نیول شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې وړمه ورځ نیویارک ټایمز ورځپاڼې د افغان او امریکايي چارواکو له خولې لیکلي وو، چې متحده ایالتونه له طالبانو سره له توافق پرته په افغانستان کې د خپلو سرتېرو د کمولو په لټه کې دي.

د نیویارک ټایمز له راپور وروسته، په افغانستان کې د ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال سکاټ مېلر هم په کابل کې له افغان چارواکو سره د یوې ګډې خبري ناستې پر مهال تایید کړه، چې امریکا په تېره یوه کال کې له افغانستانه دوه زره سرتېري ایستلي دي.

د یادونې ده چې د امریکايي رسنیو د دغو څرګندونو په تړاو، افغان حکومت تر دې دمه څه نه دي ویلي.

### ارګ: یوازې د افغانانو په مشرۍ د سولې خبرې بریالۍ کېدای شي



۲ مخ

### مقامات قندهار: در نزدیکی خط دیورند بین نیروهای افغان و نظامیان پاکستان درگیری صورت گرفته است



مقامات در ولایت کندهار می گویند که طالبان مسلح و ملیشه های پاکستانی مشترکاً بالای نیروهای افغان حمله کردند که در تیراندازی جوابی ۱۸ طالب و ملیشه پاکستان کشته و زخمی شده اند.

جمال ناصر بارکزی سخنگوی قوماندانی امنیهٔ ولایت کندهار به رسانه ها گفته است که طالبان مسلح و ملیشه های پاکستان، ناوقت عصر دیروز در منطقهٔ «سرو ځاهان» ولسوالی سپین بولدک، مشترکاً بالای نیروهای امنیتی افغان حمله کرده اند. وی افزوده است، حمله زمانی رخ داده است که نیروهای امنیتی در این ساحه مصروف عملیات بودند.

بارکزی میگوید که بین هر دو طرف درگیری شدید صورت گرفته است که از اثر آن ۱۰ طالب و ملیشهٔ پاکستان کشته و هشت تن دیگر زخم برداشته اند.

به گفتهٔ وی، در این حمله به نیروهای افغان تلفات وارد نشده است.

اما یک منبع امنیتی گفته است که پس از حمله نیروهای تازه نفس به منطقهٔ سرو ځاهان در حرکت بودند که با ماین کنار جاده برخود کرده و به شمول یک قوماندان بنام توپان، پنج سرباز دیگر کشته شده اند.

طالبان مسلح و ملیشه پاکستانی تاهنوز در این مورد چیزی نگفته اند.

منطقهٔ سرو ځاهان ولسوالی سپین بولدک در نزدیکی خط فرضی دیورند موقعیت دارد که بیشتر اوقات طالبان مسلح بالای نیروهای امنیتی حمله می کنند.




## درېځ

# د سولې په تړاو وروستي بدلونونه او چانسونه

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي خپل سفر پیل کړی او له دوو اروپايي هېوادونو وروسته به دا سفر تر مسکو پورې وغځوي. که څه هم ویل شوي چې خلیلزاد به کابل ته هم راځي، خو په دې اړه امریکايي چارواکو په رسمي ډول څه نه دي ویلي. د دغه سفر موخه د افغانستان د سولې هڅې بلل شوې ده. خلیلزاد به په مسکو کې په هغه غونډه کې برخه واخلي، چې د افغان سولې په تړاو جوړېږي او پر روسي استازو سربېره به چینايي او پاکستاني چارواکي هم پکې برخه واخلي.
له همدې سره هممهاله په یوه بل بدلون کې ویل شوي چې د حکومت او سیاستوالو یو ۲۵ کسیز پلاوی چین ته ځي او هلته به له طالبانو سره د افغان سولې په تړاو بحث او خبرې اترې وکړي.
دا بدلونونه ښيي چې لومړی خو د سولې پروسه هغسې چې ټرمپ یې ادعا کړې وه، مړه نه ده، بلکې امریکايي چارواکي لا هم د سولې په تړاو هلې ځلې کوي او غواړي یو سیاسي جوړجاړي ته ورسېږي. داسې معلومېده چې امریکايي لوری به تر هغو پورې بیا د سولې هلې ځلې پیل نه کړي، چې طالبان د دوی غوښتنې ونه مني او په ځانګړي ډول تاوتریخوالی داسې را کم نه کړي چې امریکا ته د خبرو د بیا پیل پلمه په لاس ورکړي. اوس پرته له دې چې طالبان یا کوم بدلون وکړي او یا هم د کوم داسې بدلون لپاره تیاري وښيي چې امریکا یې غوښتنه کوله، امریکا بیا د سولې هڅې پیل کړې دي. د خلیلزاد سفر، له روسیې، چین او پاکستان سره پر افغان سوله بحث او په غونډه کې ګډون، په چین کې له بین الافغاني غونډې سره نه مخالفت او ډېر نور داسې لاملونه شته چې ښيي امریکا غواړي د سولې خبرې بیا په رسمي ډول پیل شي. د دې لپاره چې امریکا د تېر په شان مخامخ له طالبانو سره کښېني، څو بدلونونو او پلمو ته اړتیا شته، که څه هم دا بدلونونه به اساسي نه وي، بلکې سمبولیک به وي، خو بیا هم امریکا اړتیا لري چې خپلو خلکو او نړۍ ته ووایي چې ځکه له طالبانو سره بیا خبرې پیلوي چې یو بدلون راغلی او دا هغه بدلون دی چې امریکا یې غوښتنه کوله. دا بدلون سخت هم نه ښکاري او که امریکا څه نور حرکتونه وکړي، نو طالبان داسې څه کولی شي چې امریکا ته د خبرو د بیا پیل پلمه په لاس ورکړي.
اوس د سولې د خبرو بیا پیل، له طالبان سره د افغان پلاوي ګډه ناسته چې پکې حکومتي کسان هم شته، یو چانس دی چې باید ګټه ترې واخیستل شي. امریکا اړ ده چې له طالبانو سره خبرې وکړي او دا خبرې د امریکايي ګټو او اړتیاوو پر اساس کوي. موږ ته هم پکار ده چې له دې چانس څخه ګټه واخلو او د رښتینې سولې لپاره کار وکړو. ټولو اړخونو ته پکار ده چې له پخوانیو تېروتنو زده کړې وکړي، طالبان باید لا زیات نرمښت وښيي، حکومت باید یو مخ له مخالفت څخه مخ را وګرځي او سیاسیون هم باید هڅه وکړي چې له حکومت او خلکو سره په ګډه د رښتینې سولې لپاره هڅې وکړي.

# د ټاکنو د روڼوالي لپاره د رايې ورکوونکو له نوملړه ۴۲۷ زره کسان حذف شوي دي

پژواک خبري اژانس

د ټاکنو خپلواک کمېسیون وايي چې له ټاکنو مخکې ۴۲۷ زره شکمن کسان د رايې ورکوونکو له نوملړه حذف شوي، چې په کومه ځانګړې جغرافیه او قوم پورې اړوند نه دي.
د ټاکنو کمېسیون هغه ادعاوې رد کړې چې ګواکې یاد کمېسیون د ځانګړې جغرافیې او قوم اړوند رايې ورکوونکي حذف کړي او ویلي یې دي، د رايې ورکوونکو له لېسته حذف شوي کسان د هېواد له ګوټ ګوټ څخه دي.
د ټاکنو کمېسیون سرپرست ویاند ذبیح الله سادات ووېل، دغه کمېسیون له ولسمشرۍ ټاکنو مخکې ۴۲۷ زره کسان په دوو پړاوونو کې د رايې ورکوونکو له لېسته لرې کړي، خو د ځانګړې جغرافیې او قوم نه، بلکې د ټول هېواد اړوند دي.
هغه زیاته کړه، دغه کمېسیون ۴۰۰ زره رايه ورکوونکي چې تکراري یا جعلي پېژندپاڼې یې لرلې او قانوني عمر یې کم و، د رايې ورکوونکو له نوملړه لرې کړي دي.
نوموړي د احصايې ملي ادارې په مرسته د ځینو نورو رايې ورکوونکو حذف کېدو ته په اشاره ووېل: «نوملړ مو د احصايې ملي ادارې ته ولېږه او ویې ویل، له ټولو رايې ورکوونکو شاوخوا ۲۷ زره پېژندپاڼې د احصايې ادارې د معلوماتو په مرکز کې نه وې او هغه یې حذف کړل.»
د ټاکنو کمېسیون د دارالانشا رییس حبیب الرحمن ننګ پژواک ته ووېل، د رايې ورکوونکو په ځینو لېستونو کې ځکه ستونزې وې، چې دوی ته له مخکنیو کمېشنرانو پاتې وو او په تازه لېستونو کې هېڅ ډول ستونزه نه تر سترګو کېږي.
هغه زیاته کړه: «یوازې هغه کسان د رايې ورکونې له حقه محروم شوي، چې جعلي او یا دوه تذکرې یې لرلې.»
د احصايې او معلوماتو ملي ادارې ویاند روینا شهابي هم د یادې ادارې له‌خوا د رايې ورکوونکو له نوملړه د ځانګړې جغرافیې یا قوم د خلکو حذف کېدل رد کړل او ویې ویل، دا یوازې تور دی او په اړه یې هېڅ اسناد نشته.
هغه زیاته کړه، د ټاکنو کمېسیون د احصايې له ادارې غوښتي وو چې شکمن رايه ورکوونکي د تذکرې پر اساس وپېژني او دې ادارې د قانون مطابق خپله دنده تر سره کړه.
نوموړې ووېل، د ټاکنو کمېسیون په رسمي ډول له دوی غوښتنه وکړه چې له ټولو ۹.۱ میلیون تذکرو جعلي، تزویري او شکمنې تذکرې وپېژني چې دې ادارې د قانون مطابق ورته رسېدنه وکړه.
هغه روښانه کړه: «هغه تذکرې چې ستونزه یې درلودې، د احصايې ملي ادارې له‌خوا شکمنې وپېژندل شوې او د ټاکنو کمېسیون د مکتوب په ځواب کې په رسمي ډول ولیکل شول، چې ۲۷ زره تذکرې کوایف لري او تر راتلونکې اطلاع شکمنې تذکرې تشخیص شوې دي او کمېسیون د خپلو طرزالعملونو مطابق کولای شي په دې اړه تصمیم ونیسي.»
پژواک خبري اژانس هڅه وکړه څو هغه مکتبونه چې د رايې ورکوونکو د نوملړ د تصفیې په موخه د ټاکنو کمېسیون او احصايې او معلوماتو ملي ادارې ترمنځ رد او بدل شوي وو، تر لاسه کړي، خو له پرله پسې اړیکو او احصايې ادارې ته د اطلاعاتو غوښتنې فورم پر لېږلو سربېره، د یادو مکتوبونو پر تر لاسه کولو بریالی نه شو.
خو پر ټاکنو د څار بنسټونه وايي چې لومړی یې د دغه کار هرکلی وکړ، خو وروسته ولیدل شول چې د رايې ورکوونکو د نوملړ د تصفیې په برخه کې لازم دقت نه دی شوی.
د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو موسسې (فیفا) اجرایوي رییس یوسف رشید پژواک ته ووېل، د ټاکنو کمېسیون او ځینو سیاستوالو له‌خوا له ټاکنو مخکې د څه باندې ۴۰۰ زره رايې ورکوونکو حذف خوشاله کوونکی و او دوی یې هرکلی وکړ.
نوموړي قومي، سمتي او ژبنۍ تصفیه رد کړه او ویې ویل، په ولسمشرۍ ټاکنو کې یې له بېلابېلو سیمو څارنه کړې او د یادو کسانو حذف په یوه قوم، سمت او ژبې پورې اړوند نه دی.
نوموړي زیاته کړه: «موږ د څارونکي بنسټ په حیث کمېسیون ته ووېل چې لېست نصب کړي، څو تېروتنې اصلاح شي، خو زموږ د غوښتنې ملاتړ ونه شو، له همدې امله د ټاکنو په ورځ د ډېرو رای ورکوونکو نومونه د رايې ورکوونکو په لېست کې نه وو، سټېکر یې لرل او د ولسي جرګې په ټاکنو کې یې رايې ورکړې وې، خو د ولسمشرۍ ټاکنو پر مهال یې نومونه په لېست او بایومټریک ماشینونو کې نه وو.»
د تیفا اجرایوي رییس نعیم ایوب زاده دې ته په اشاره چې کمېسیون د رای ورکوونکو د نوملړ په تصفیه کې سستي کړې ووېل، د رايې ورکوونکو د شفاف لېست په جوړېدو کې ناغېړي شوې ده.
د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون غړي قطب الدین رویدار ووېل، له دغه کمېسیون سره ۴۱۷ شکایتونه په بایومټریک ماشینونو کې د نومونو او ۷۹۲ شکایتونه د رايې ورکوونکو په لېستونو کې د نومونو د نه موجودیت په اړه ثبت دي.
د رویدار په خبره، د رايې ورکونې مرکزونو ته د رايې ورکونکو د نوملړ د نه رسېدو په اړه هم اته شکایتونه ثبت شوي دي.
د کابل ښار د پنځمې ناحیې یوه اوسېدونکي احمد نسیم پژواک ته ووېل، د اسماعیل حسن زي په لېسه کې ځکه د رايې ورکونې له حقه بې برخې شوی، چې په بایومټریک سیستم کې یې نوم نه و.
هغه زیاته کړه: «ما په ولسمشرۍ ټاکنو کې د ګډون لپاره دویم ځلي پر خپله پېژندپاڼه سټېکر وواهه، خو د ټاکنو په ورځ مې نوم په بایومټریک سیستم کې نه و او د رايې ورکونې له حقه محروم شوم.»
د کابل ښار د شلورمې ناحیې اوسېدونکي محمد حسن هم پژواک ته ووېل، د حاجي محمد داد جومات په ټاکنیز مرکز کې یې نوملیکنه کړې وه، خو د ټاکنو په ورځ د رايې ورکونې مرکز ته ولاړ، خو د رايې ورکونې اجازه ور نه کړل شوه.
د ولسمشرۍ ټاکنو نوماند عبدالطیف پدرام د رايې ورکوونکو د نومونو پر حذف نیوکه وکړه او ویې ویل، شخصاً له ده سره په دې اړه مشوره نه وه شوې او د ده د اطلاعاتو له مخې، د مرکزي احصايې کارکوونکو له ځانګړو حکومتي ټیمونو سره کار کړی او ځینې کسان یې د رايې ورکونې له لېسته لرې کړي دي.

### د ۱۳۹۷ لمریز کال د ولسي جرګې په ټاکنو کې د رايې ورکوونکو شمېر

د ټاکنو کمېسیون چارواکو د معلوماتو له مخې، د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره نوملیکنه لومړنۍ نوملیکنه وه، چې له ۱۰۰ مخیز کتاب څخه پکې استفاده وشوه. د کتاب په هره پاڼه کې شپږ رايې ورکوونکي ثبتېدل. دغه کتابونه د نارینه او ښځینه وو د رايې ورکونې ځانګړو مرکزونو لپاره ترتیب شوي وو.
په نوي بهیر کې د رايې ورکوونکو په نوملړ کې ۹۴۶۳۵۵۵ کسان موجود وو، خو له کتابونو ډېټابېس ته د معلوماتو له رسولو او سکن وروسته، د اوو کټګوریو پر اساس د رايې ورکوونکو ۵۶۳۶۱۴ ریکارډونه حذف شول.
په یادو کټګوریو کې ۱۴۰۹۰۶ د خرابو تذکرو، ۱۵۷۱۴۲ د تکراري تذکرو، ۱۰۱۷۴۶ د زېږېدو د نېټې د نه لرونکو تذکرو، ۱۶۰۶۹۳ د کم عمره کسانو د تذکرو، ۴۰۳ د تذکرو د معلوماتو د نه موجودیت، ۱۸۷ د هغو تذکرو چې کتاب یې ورک شوی او ۸۴۶ د تړلو مرکزونو موارد شامل وو.
د معلوماتو د ارزول شوې برخې دغو ریکارډونو د موقعیت او یا قوم د نشتون له امله له پېژندل کېدو وروسته، د ډېټابېس له سکرېپټونو په استفاده حذف شوي دي. له تصفیې او حذف وروسته، د ۱۳۹۷ لمریز کال د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره د رايې ورکوونکو شمېر ۸۸۹۹۹۴۱ ته رسېده.

### د ۱۳۹۸ لمریز کال د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره د رايې ورکوونکو شمېر

د ۱۳۹۸ لمریز کال د ولسي جرګې تر ټاکنو وروسته، ټاکنو کمېسیون فرصت درلود چې په محدود وخت کې تر لاسه شوي معلومات له نږدې و ارزوي. دوی داسې کتابونه تر لاسه کړل چې سکن شوي نه دي او ځینې پاڼې یې نه وې. دغه راز دوی د تکراري رایو او خرابو شوو ایډي ګانو لپاره تازه پلټنه تر سره کړه او د حذف وړ ۴۲۸۹۰۱ موارد یې پیدا کړل. د رايې ورکوونکو دغه موارد هم ځکه د حذف وړ وو، چې د موقعیت او قوم سرچینه یې نه وه معلومه.
له تصفیې او زیاتولو وروسته، دوی ۵۹۳۶۴۶۵ نارینه او ۳۱۶۷۱۸۷ ښځینه رايې ورکوونکو درلودل چې په ټوله کې د رايې ورکوونکو شمېر ۹۱۰۳۶۵۲ وو.
دغه راز کمېسیون ۲۶۸۴۶ موارد له مرکزي احصايې تر لاسه کړل چې په ښکاره داسې رايې ورکوونکي وو، چې جعلي تذکرې یې لرلې. د مرکزي احصايې معلوماتو سټېکر نمبر نه درلود، نو ځکه له ډېټابېس سره د دغو معلوماتو تطبیق سخت و. کمېسیون وکولای شول چې یوازې ۲۰۵ هغه موارد تطبق کړي چې معلومات یې موجود وو او په ډېټابېس کې یوازې ۱۸۱ موارد د فعالو رايې ورکوونکو وو چې حذف شوي دي.
له دې وروسته کمېسیون د ولسمشرۍ ټاکنو په رانږدې کېدو پر شرایطو د برابرو ډېرو هېوادوالو لپاره تقویتي نوملیکنه پیل کړه، چې په ټوله کې ۳۲۹ زره او ۳۱۲ کسانو پکې نوملیکنه وکړه.
دغه راز یاد بنسټ د تقویتي نوملیکنې تر څنګ، په غزني ولایت کې د رايې ورکوونکو نوملیکنه هم پیل کړه چې په ټوله کې ۲۴۴ زره او ۴۰۹ کسانو پکې نوملیکنه وکړه.
وروسته د ټاکنو کمېسیون د هغو رايې ورکوونکو معلومات ډېټابېس ته زیات کړل، چې د تقویتي نوملیکنې په جریان او غزني ولایت کې یې ثبت کړې وو. له یادو کسانو وروسته د رايې ورکوونکو شمېر ۹۶۶۵۷۴۵ ته ورسېد، له دې ډلې له ۲،۷ میلیونو ډېرو کسانو په ولسمشرۍ ټاکنو کې ګډون کړی، خو د ټاکنو کمېسیون له یادو کسانو د یو میلیون او ۷۸۷ بایومټریک رايې ورکوونکو معلومات د اطلاعاتو مرکز ته انتقال کړي دي.
د ټاکنو خپلواک کمېسیون اعلان کړی چې ډېر ژر به له پاکو رایو څخه د ناپاکو رایو د جلا کېدو پړاو بشپړ او لومړنۍ پایلې به اعلان کړي.
ولسمشرۍ ټاکنې د روان کال د تلې په شپږمه تر سره شوې. د ټاکنو د مهالوېش له مخې، د ولسمشریزو ټاکنو لومړنۍ پایلې د تلې په ۲۷مه او وروستنۍ پایلې د لړم په ۱۶مه اعلانېدې. خو د تلې په ۲۷مه د ټاکنو کمېسیون اعلان وکړ چې سرور ته د بایومټریک له ماشینونو څخه د معلوماتو د لېږلو پروسې د ځنډ له امله یې د ټاکنو د لومړنیو پایلو اعلان وځنډاوه.

# ارګ: یوازې د افغانانو په مشرۍ د سولې خبرې بریالۍ کېدای شي

ارګ د افغان سولې په تړاو د زلمي خلیلزاد تازه سفر ته په غبرګون کې ویلي، افغانستان هغه مهال تلپاتې سولې ته رسېدلی شي، چې دغه بهیر د افغانانو په مشرۍ تر سره شي.
د ولسمشرۍ مانۍ ویاند صدیق صدیقي ویلي، چې افغانان د تلپاتې او باعزته سولې غوښتونکي دي او افغان حکومت هم سولې ته ژمن دی.
صدیقي پر خپله ټوېټر پاڼه لیکلي: «سوله تل د ولسمشر له لومړیتوبونو څخه ده او افغان حکومت سولې ته ژمن دی، زموږ هېواد هغه مهال یوې تلپاتې او باعزته سولې ته رسېدلی شي، چې دغه بهیر د افغان دولت له‌خوا رهبري شي».
دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد تېره یکشنبه بروکسل، پاریس او مسکو ته سفر پیل کړی دی.



خلیلزاد د خپل سفر په ترڅ کې وړمه ورځ بروکسل ته په رسېدو سره، د ناټو له عمومي منشي ینس سټولټنبرګ سره د افغان سولې پر بهیر خبرې کړې دي.
سټولټنبرګ له خلیلزاد سره د خپلې لیدنې په اړه پر ټوېټر لیکلي: «زموږ متحدین له افغانستان څخه ملاتړ او په دغه هېواد کې د سوله ییز هواري لپاره د شرایطو برابرولو لپاره ژمن پاتې دي».
زلمي خلیلزاد په داسې حال کې دا هڅې بیا پیل کړې، چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د سپټمبر په اوومه د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې خبرې چې وروستۍ موافقې ته نږدې شوې وې، لغوه اعلان کړې.
په ورته وخت کې امریکايي رسنۍ وايي، چې د امریکا د دفاع وزیر مارک ایسپر هم په دې خاطر افغانستان ته سفر کړی، چې له طالبانو سره د سولې خبرو د بیا پیلېدو په اړه له افغان چارواکو سره خبرې وکړي.

# د ټاکنو نامعلوم برخلیک؛

## کمېسیون د ټاکنیزو ټیمونو له لانجو او خپلمنځیو اختلافونو سره مخ دی




د ټاکنو خپلواک کمېسیون د قلفونو د ماتېدو او مداخلې په اړه د ځینو ټاکنیزو ټیمونو ادعا رد کړه. د ټاکنو خپلواک کمېسیون تېره ورځ په یوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وویل، د ثبات او همپالنې ټیم تور پورې کړی چې د ځانګړو پولیسو یوه ډله ډیجیټل سنټر ته ننوتې ده او یو قلف یې مات کړی دی. خو یاد کمېسیون بیا دغه تورونه رد کړل او هغه یې بې بنسټه وبلل. بلخوا ځینې څارونکي بنسټونه بیا وايي چې د ټاکنو په خپلواک کمېسیون کې اختلافات موجود دي او دغه اختلافات د جدي اندېښنو سبب ګرځي.

ورمه ورځ د ثبات او همپالنې ټیم په کابل کې یو خبري کنفرانس درلود او ټینګار یې کاوه چې کمېسیون د خلکو رایې ته درناوی نه کوي او په دغه کمېسیون کې لاسوهنې روانې دي. دوی تور پورې کړ چې یو ځانګړی ټاکنیز ټیم پخپله ګټه فعالیتونه تر سره کوي او کمېسیون یې پر وړاندې اقدام نه کوي. د ثبات او همپالنې ټیم دا هم وویل، چې د ځانګړو پولیسو یوه قطعه په ټاکنو کمېسیون کې ده او دوی دری شپې وړاندې د کمېسیون د ډیجیټل سنټر قلف مات کړی او هلته یې لاسوهنې کړې دي. خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون پر دغه ادعاوو غبرګون وښود او هغه یې بې بنسټه وبللې.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون یوه کمېشنر اورنګزیب وویل، چې په دغه کمېسیون کې ټول کارونه د مقررو او قوانینو له مخې مخ ته روان دي او هېچا ته په هېڅ برخه کې د مداخلې حق نه ورکول کېږي. د ده په خبره، ټاکنیز ټیمونه دې د خلکو اذهان نه مخشوشوي او بې اساسه څرګندونې دې نه کوي. اورنګزېب وویل: ((موږ ټول فعالیتونه په شفافه توګه د قوانینو له مخې تر سره کوو. امنیتي ځواکونه له موږ سره همکار دي. دلته ځانګړې امنیتي ډلې شته دي چې د کمېسیون د ټول امنیت مسوول دي او ټول باوري خلک دي. د قلف د ماتېدو خبره بې اساسه ده)).

د ټاکنو خپلواک کمېسیون دا هم وویل، چې د ثبات او همپالنې ټیم ځینې استازي ورغلي، قلفونه یې کتلي او قناعت یې حاصل شوی دی. بلخوا د ثبات او همپالنې ټیم بیا د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې د ټاکنو کمېسیون د یو لوري پلویتوب کوي او تر ډېره حقایق له ولس څخه پټوي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا هغه برخه چې غیر حساس ټاکنیز مواد پکې دي او قلف یې د سرتېرو د ځای پر ځای کولو لپاره مات شوی، رسنیو ته ښودلې ده.

بلخوا پر ټاکنو څارونکي بنسټونه بیا وايي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د غړو ترمنځ اختلافات رامنځ ته شوي او دا اختلافات د مشرتابه تر کچې رسېږي. د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو یا فیفا مشر یوسف رشید ویلي، دا چې دوی د لومړنیو پایلو د اعلان په اړه یوې پایلې ته نه رسېږي، دا ثابتوي چې په خپلو کې اختلافات لري. رشید وايي: ((دا چې نه سره جوړېږي چې لومړنۍ پایلې څه وخت اعلان کړي، د اخلافاتو په مانا ده. دوی تر دې دمه واحد نظر نه لري)).

د افغانستان د رښو ټاکنو د بنسټ رییس محمد نعیم ایوب زاده بیا وايي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون غړي په ځینو برخو کې سره اختلافات لري او همدې اختلافاتو ټاکنیزو ټیمونو ته موقع برابره کړې، چې له وخته ناوړه ګټه واخلي. د ده په خبره، دا اختلافات پر ټاکنو او د هېواد پر روان وضعیت منفي تاثیرات لري چې باید ژر تر ژره ختم کړل شي. ایوب زاده وايي: ((دا اختلافونه کولای شي منفي تاثیرات ولري او د کمېسیون باور تر پوښتنې لاندې راولي. دا اختلاف په پای کې انتخاباتي ټیمونو ته زمینه برابروي چې د ځان په ګټه ترې استفاده وکړي)).

د ټاکنو خپلواک کمېسیون په اړه دغه څرګندونې داسې مهال دي، چې لا هم د ولسمشریزو ټاکنو د لومړنیو پایلو برخلیک نه دی روښانه شوی او لا هم د ټاکنو خپلواک کمېسیون دا نه دي ویلي چې لومړنۍ پایلې به څه وخت اعلانوي.

## مشرانو جرګه: د ملي راډیو ټلوېزیون ځمکه د قانون خلاف د برېټانیا پر سفارت او اسیایي بانک پلورل شوې

د مشرانو جرګې د شکایتونو اورېدو کمېسیون ویلي چې د هېواد د قوانینو خلاف، د ملي راډیو ټلوېزیون ځمکه د انګلستان پر سفارت او اسیایي بانک پلورل شوې ده.

د اړوندې موضوع په اړه جوړې شوې خبري غونډې ته د مشرانو جرګې د شکایتونو اورېدو کمېسیون رییس زلمي زابلي ویلي، چې د ملي راډیو ټلوېزیون څه باندې ۱۹ جریبه ځمکه د قانون خلاف، د انګلستان پر سفارت او اسیایي بانک پلورل شوې ده.

د زابلي د معلوماتو له مخې، حکومتونه کولای شي یوازې د سفارتونو لپاره ځمکې ورکړي، خو پلورلی یې پرې نه شي.

هغه ویلي چې د ملي یووالي حکومت مشرانو د قانون خلاف، پر بهرنیو هېوادونو د ملي راډیو ټلوېزیون ځمکه پلورلې ده.

نوموړي ویلي چې له دې مخکې هم د امریکایي پوهنتون او د مرکزي سېلو ځمکې پر بهرنیانو پلورل شوې دي.

زابلي زیاته کړې، که د ملي یووالي حکومت مشران دې مسئلې ته پاملرنه ونه کړي، د خلکو له جدي غبرګون سره به مخ شي.

په دې غونډه کې د یادو څرګندونو په غبرګون کې د ملي راډیو ټلوېزیون د پروژو د څارنې مسوول غلام جیلاني ویلي، چې د مالیې وزارت له غوښتنې سره سم د ملي راډیو ټلوېزیون شپږ جریبه ځمکه باید د انګلستان سفارت ته ورکړل شي.

خو هغه زیاته کړې چې د بهرنیو چارو وزارت د ملي راډیو ټلوېزیون له هوکړې پرته، شپږ جریبه او شل متره مربع ځمکه د انګلستان سفارت ته او څه باندې ۱۳ جریبه اسیایي بانک ته ورکړې ده.

د زابلي په خبره، د یادې موضوع په اړه دوی څو ځلې د بهرنیو چارو وزارت، مالیې وزارت او د کلیو پراختیا وزارت له مسوولینو سره کتلي، خو قناعت کوونکی ځواب یې نه دی تر لاسه کړی.

غلام جیلاني دغه راز ویلي چې د ملي راډیو ټلوېزیون د ځمکې یوه برخه د کاناډا سفارت، یوه برخه د انګلستان سفارت، یوه برخه اسیایي بانک ته ورکړل شوې او د یوې اندازې ځمکې غوښتنه د ملګرو ملتونو اداري هم کړې ده.

هغه ویلي: «که دغه ټولې ځمکې ورکړل شي، ملي ټلوېزیون ته هېڅ هم نه پاتې کېږي، باید دروازه یې وتړل شي».

بل لور ته د بهرنیو چارو وزارت مسوولینو په دې اړه له څه ویلو ډډه کړې ده.

په یاده غونډه کې د انګلستان سفارت ته د ملي راډیو ټلوېزیون د ځمکې د ورکړې په برخه کې د ولسمشر محمد اشرف غني حکم هم رسنیو ته وښودل شو.

په دغه حکم بهرنیو چارو وزارت ته دنده ورکړل شوې ده چې له قانوني پړاوونو وروسته، له نقشې سره سم یاده ځمکه د انګلستان سفارت ته وسپاري.

## اورنګزېب: د سرور د کاري نېټې د پای ته رسېدو له کبله د ټاکنو پایلې وځنډېدې

د ټاکنو خپلواک کمېسیون چارواکو تېره ورځ په کابل کې د یوې خبري غونډې پر مهال د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو د ځنډېدو لاملونه په ډاګه کړي دي.

د دغه کمېسیون کمېشنر اورنګزېب رسنیو ته ویلي چې له څو ورځو راهیسې د درملوګ شرکت د زېرمې امنیتي سند یا «سرور سیکیوریټي سرټیفیکېټ» کاري نېټه ختمه شوې وه.

درملوګ هغه جرمني شرکت دی چې د افغانستان په ګډون، د ځینو هېوادونو د ټاکنو لپاره یې تخنیکي خدمات وړاندې کړي دي.

هغه ویلي، کله چې د دې سرټیفیکېټ وخت واوړي، نو بایومټریک مالومات هلته نه لېږدول کېږي، خو د دوشنبې په ورځ یې سرور بېرته فعال شو.

نوموړي پر ټاکنیزو څارونکو ډلو هم غږ کړی چې د شاوخوا دوه زره قرنطین شویو الو د معلوماتو زېرمې ته د لېږد پر وخت حاضر اوسي.

اورنګزېب په دې خبري ناسته کې



ویلي، د ټاکنو د پایلو ځنډېدو یو بل لامل پخپله د ټاکنیزو ډلو څارونکي دي او غوښتنه یې ترې کړې چې دوی باید په روانه پروسه کې همکاري وکړي او ستونزې جوړې نه کړي.

هغه د ټاکنو کمېسیون دارالانشا ته سپارښتنه کړې چې شپه او ورځ کار وکړي څو پایلې نورې ځنډنۍ نه شي.

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې وه د ولسمشریزو ټاکنو پایلې د تېرې شنبې په ورځ اعلان شي، خو کمېسیون وار له مخه ویلي وو چې ښایي دا اعلان د څو ورځو لپاره وځنډېږي.

بالاخره همداسې وشول او د ټاکنو کمېسیون د شنبې په ورځ وویل، د ځینو تخنیکي ستونزو او په دې بهیر کې د لا ډېرې روڼتیا په پار دوی ونه توانېدل چې پایلې پر وخت اعلان کړي.

د ټاکنو کمېسیون مشرې حوا علم نورستانۍ د پایلو د ځنډېدو له کبله له افغانانو بښنه هم وغوښته، خو کمېسیون ټینګار کوي چې دا ځنډ به یوازې څو ورځې وي او پر پایلو به هېڅ ډول اغېز ونه لري.

خو ورمه ورځ د کمېسیون یوه بل کمېشنر محمد عبدالله په کابل کې خبریالانو ته وویل، د کمېسیون ستونزه یوازې تخنیکي نه ده. نوموړي پر ټاکنیزو ډلو او نړیوالو څارونکو غږ وکړ چې له کمېسیونه دې د پایلو د ځنډ په اړه پوښتنه وکړي.

په ورته وخت کې د ولسمشریزو ټاکنو ځینو نوماندانو هم د ټاکنو د پایلو پر ځنډېدو نیوکې کړې او تور یې پورې کړی چې کمېسیون له ځینو (واکمنو ټاکنیزو ډلو) سره یو ځای غواړي چې پایلې بدلې کړي.

## اردوغان: که امریکا خپلې ژمنې پوره نه کړي، په سوریه کې به پیاوړي عملیات پیل کړو



د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان خبرداری ورکړی چې که د امریکا متحده ایالتونه د سوریې له شماله د کردي ځواکونو د وتلو په تړاو خپلې ژمنې عملي نه کړي، په سوریه کې به بیا پیاوړي عملیات پیل کړي.

نوموړي تېره ورځ روسیې ته تر خپل سفر وړاندې ویلي چې په سوریه کې یې اوسمهال پوځي عملیات د دې لپاره درولي، چې هلته مېشت خلک له سیمې ووځي.

نوموړي په انقره کې یوې خبري ناستې ته ویلي چې هېواد یې د سوریې ځمکنۍ بشپړتیا ته درناوی لري، خو ټینګار یې کړی چې د دغه هېواد په شمال کې به د ده په خبره، د ترهګرو په له منځه وړلو کې په ګډه کار وکړي.

هغه دغه راز زیاته کړې چې د روسیې له ولسمشر ویلادیمیر پوټین سره به د نورو مسایلو تر څنګ، د سوریې د اساسي قانون د کمېټې پر سر هم خبرې وکړي.

اردوغان خبرداری ورکړی چې هېواد به یې هېچا ته اجازه ورنه کړي چې د ترکیې پولو ته نږدې ترهګریزې کړنې وکړي. هغه ویلي: «هغوی(کردان) غواړي چې د سوریې په شمال کې د ترهګریزو کړنو لپاره مرکزونه جوړ کړي، خو موږ به دوی ته هېڅکله هم اجازه ور نه کړو».

د ترکیې ولسمشر دغه راز ویلي، چې هېواد یې په سوریه کې د تلپاتې سوله غوښتونکی دی، نه داسې سوله چې د هغه په خبره یوازې د یوې لنډې مودې لپاره وي.

اردوغان په سوریه کې د کردانو پر وړاندې د پیل شویو عملیاتو په تړاو یوې پوښتنې ته په ځواب کې ویلي: «ترهګرو ته ورکړل شوی وخت پای ته رسېدلی دی، زموږ عملیات به په دې سیمه کې تر هغې روان وي، څو چې دوی له سیمې نه وي په شا شوي، دوی اوس له سیمې د وتلو په حال کې دي او تر دې دمه یې یوه لویه برخه وتلې هم دي».

نوموړي د ایران د وروستیو څرګندونو په تړاو هم ویلي، چې تهران، مسکو او انقرې د سوچې په ناسته کې له یو بل سره په دې برخه کې د همکارۍ ژمنه کړې وه، خو د دغه هېواد اوسنۍ څرګندونې ناسمې او د ژمنې خلاف دي. په ورته وخت کې روسیې ویلي چې په سوریه کې د ترکي سرتېرو د عملیاتو او پاتې کېدو په تړاو باید انقره له دمشق سره هوکړې ته ورسېږي.

د روسیې د حکومت ویاند دیمیتري پېسکوف زیاته کړې: «دا د سوریې د حکومت حق دی چې په خپله خاوره کې د ترکیې د عملیاتو په اړه تصمیم ونیسي».

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ ليکوال: ابوبکر صديق

◎ ژباړن: اقامحمد قريشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

### شپږم څپرکی
### پښتونخوا د ترهګرۍ په لومه کې



د يوويشتمې پېړۍ په پيل کې متشددې او غيرمتشددې اسلامي ډلې د انکار نه منونکي ځواک په توګه راڅرګندې شوې. د ۲۰۰۱ز کال په اپرېل کې تر هغه يوه مياشت وروسته چې طالبانو په باميان ولايت کې د بودا مجسمه ړنګه کړې وه، جمعيت علماء اسلام ګوند په پېښور کې (د دېوبند نړيوال کنفرانس) تر عنوان لاندې درې ورځنۍ غونډه جوړه کړې وه. ياده غونډه د قدرت د څرګندولو لپاره وه. اسلام پالو فکر کاوه چې هغوی د افغانستان او پاکستان دواړو قدرت ته رسېدونکي وو. په هغه غونډه کې غوښتنه وشوه چې ملګري ملتونه دې پر طالبانو، عراق او ليبيا خپل بنديزونه ليرې کړي. د دې غونډې ګډونوالو په ورته وخت کې له سعودي او خليجي هېوادونو څخه د امريکايي ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړه. د جمعيت علماء اسلام ګوند مشر مولانا فضل الرحمن لوړه وکړه که امريکا د زور له خبرو لاس وانخلي، نو مسلمانان به يې پر وړاندې ودرېږي.

د افغان طالبانو د تحريک مشر ملا محمدعمر هم دې غونډې ته خپل پيغام رالېږلی و. هغه په غږيز پيغام کې ويلي وو: (( کفار د اسلام دين د خپلو نړيوالو ګټو لپار ګواښ ګڼي، د هغوی هره هڅه د مسلمانانو د کمزوري کولو لپاره ده. په افغانستان کې ۹۵سلنه خاوره زموږ په کنټرول کې ده، خو موږ ته لا هم د يوې ډلې په سترګه کتل کېږي او په رسميت مو نه پېژني.)) اسامه بن لادن په دې غونډه کې د طالبانو د تحريک لپاره د ملاتړ غوښتنه کړې وه. هغه افغانستان يو سوچه مسلمان هېواد ياد کړی و او پر مسلمانو ځوانانو يې غږ کړی و چې د طالبانو له نظامي ليکو سره يو ځای شي. هغه ويلي وو: ((افغانان ستاسې پرېکړو ته په تمه دي، مه وېرېږئ. په لوړ غږ خبرې وکړئ او اسلامي سېستم پلی کړئ.)) خټک دې ډول غونډو ته د شک په سترګه کتل. هغه باور لاره چې منځلارې پښتانه به يوه ورځ د افراطيت د ښامار خوراک شي. خټک په دې باور و چې د ۱۹۹۹ز کال په اکتوبر کې د پروېز مشرف کودتا د افراطيانو د ژوندي ساتلو هڅه وه. د پاکستان د پوځ پر څارګرو يې شک کاوه چې ګني د پېښور غونډه د هغوی په اشاره او امکاناتو جوړه شوې وه، څکه يې له دې لارې غوښتل دېوبندي افراطيت پياوړی کړي. خټک باور نه لاره چې مشرف دې سېکولرېزم ته ژمن پاتې شي، هغه له پوځ سره نږدې پاتې شوی و، څکه نو د پوځ سياسي او اقتصادي ګټو ته تر بل هر چا ژمن و. هغه پر لوېديځ هم نيوکه لرله چې په افغانستان کې يې د سياسي حل په تړاو هېڅ ډول سرچينې په سمه توګه ونه کارولې. هغه ويل چې واشنګټن او ملګرو يې د القاعدې ګواښ سم نه دی درک کړی څکه به يوه ورځ ورته بلا شي.

د خټک اندېښنه پر ځای وه، د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر پر ۱۱مه په واشنګټن او نيويارک ښارونو بريدونه وشول. کله چې د طالبانو رژيم د ۲۰۰۱ز کال په پای کې ړنګ شو، خټک د يوه سياسي حل په موخه په افغانستان کې د لنډمهاله ادارې د جوړولو له نظر سره موافق و. هغه د بوش د ادارې له هغې پرېکړې ناخوښ و چې د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره يې پر مشرف د جګړې پر لومړۍ کرښه کې د ملګرتيا لاس ايښی و. خټک د امريکا متحده ايالتونو د يوه ټلويزيون خبري خپرونې ته ويلي وو: ((هغه يو نظامي زورواکی دی، د اساسي قانون له مخې واک ته نه دی رسېدلی، څکه يې واک د اساسي قانون او نورو قوانينو له مخې مشروعيت نه لري. له بده مرغه، کله چې د سپټمبر ۱۱مې پېښه وشوه، هغه د امريکا پر ټلويزونونو ښکاري، اوس د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې ملګری شو، هغه ښه سړی شو، خو له بده مرغه چې پاکستان کې ولسواکي لاهم شاته روانه ده.)) خټک لومړی کس و چې د پاکستان له دوه مخې لوبې يې پرده پورته کړه. هغه د ۲۰۰۲ز کال په اکتوبر مياشت، د پښتنو په سيمو، د ټاکنو په پايله کې د اسلامي ګوندونو يووالی د اسلامپالو د پياوړتيا يو کمپاين وباله. اسلامپالو په شمال لوېديځ سرحدي ولايت، فاټا او شمالي بلوچستان کې ټاکنې وګټلې. د نېشنل عوامي ګوند په ګډون ټول سېکولر ګوندونه ناکام وو چې په ملي پارلمان کې يې يوه څوکۍ هم نه وه ګټلې. نړيوالو څارونکو ټاکنې له درغليو ډکې وبللې، سېکولر سياستوالو او خپلواکو څارونکو د پوځ پر استخباراتو تور ولګاوه چې ګني غواړي په لوی لاس اسلامپال بريالي کړي. هغوی باور لاره چې پوځ له دې لارې غوښتل واشنګټن ته وښيي چې اسلامپالي په زور کې دي. د مشرف ادارې ته بايد ډېرې سرچينې ورکړل شي چې پر مټ يې له افراطيت سره جګړه وکړي.

خټک د لوبې په اړخونو پوهېده، هغه ويل چې دا لوبه د پښتنو لپاره اوږدمهاله ګټه نلري، په وينا يې پښتانه بايد د ځان ژغورنې بديل ولټوي. خټک په ۲۰۰۳ز کال يو ځل بيا له نېشنل عوامي ګوند سره يو ځای شو، ډېر ژر يې په دې ګوند کې بيا باور خپل کړ. د ګوند مشر اسفنديار ولي خان ځان ته نږدې کړ. په فاټا کې تاوتريخوالی ورځ تر بلې په زياتېدو و. هغوی د سولې لپاره کمپاينونه پيل کړل، د مسجد او حجرې تر منځ د واټن ختمولو غږ يې پورته کړ، غوښتل يې له دې لارې روانه بلوا پای ته ورسوي. هغوی پر نړيوالو رسنيو او له بهرنيو ډيپلوماتانو سره خبرې وکړې، هغوی ته يې وويل چې پښتانه جګړه او تشدد نه خوښوي، روان تاوتريخوالی ټول پر پښتنو تپل شوی و.

**دوام لري...**

# افغانستان، پاکستان، هندوستان يو بنسټيز بدلون

◄ اکسوس کتابپلورنځی

افغانستان، پاکستان، هندوستان او يو بنسټيز بدلون، د ځوان افغان ډيپلومات شيدا محمد ابدالي اثر دی. ښاغلي شيدا محمد ابدالي په هندوستان کې د افغان سفير په توګه دنده تر سره کړې او همدا راز نوموړی په بوتان، مالديف او نېپال کې هم د افغانستان نااستوګن سفير پاتې شوی دی. نوموړی د يو لېوال افغان په توګه د افغانستان د نړيوالو اړيکو، مهمو سيمه ييزو لوبغاړو او د هغوی د ونډې په اړه د پوره پوهاوي او درک خاوند دی. په دې کتاب کې د يادو هېوادونو ترمنځ د درې اړخيزو اړيکو په اړه بحث شوی دی او په دې اړه يې هم څېړنه کړې ده چې يو سوله ييز او باثباته افغانستان څنګه کولای شي د سيمې ثبات او سولې ته لار هواره کړي.

دا کتاب د تېرو دوو لسيزو پر مهمو پېښو رڼا اچوي، چې له کورني اړو دوړ نيولې بيا د طالبانو تر رژيم پورې او د سپټمبر د يوولسمې له پېښې وروسته د امريکا متحده ايالاتو بريد او پر سيمه يې اغېزې په بر کې نيسي. ليکوال د افغانستان د اوږدمهاله ټيکاو لپاره د افغانستان او پاکستان د اړيکو پر ژور اغېز هم ټينګار کوي. پر دې سربېره، په دې کتاب کې د پاکستان او هندوستان د اړيکو رول او د افغانستان پر امنيتي او اقتصادي پرمختګ يې ناوړو اغېزو ته هم ځای ورکړل شوی دی.

ښاغلي ابدالي د شوروي له يرغل راهيسې د افغانستان په اړه د پاکستان د ناڅرګند سياست ريښې هم تحليل کړې دي. په تېرو دوو لسيزو کې افغانان د پاکستان د دوه مخي سياست شاهدان وو، چې همهاله يې د طالبانو او امريکا دواړو ملاتړ کاوه. له بله اړخه له هندوستان سره د تاريخي اړيکو يادونه هم پکې شوې ده، چې په تېرو لسيزو کې نورې هم پراخې شوې دي. دا اړيکې که د بيارغونې په برخه کې دي او که د تحصيلي بورسونو او پوځي مرستو په برخه کې، خو هندوستان د افغانستان لپاره تر ټولو لوی سيمه ييز مرسته کوونکی هېواد دی.

په تېره لسيزه کې د باخبره بهرنيانو لهخوا ډېر کتابونه ليکل شوي دي، خو دا کتاب د يوه لوړپوړي افغان ډيپلومات نظر څرګندوي. نوموړي په دې کتاب کې تېرو پېښو ته پاملرنه او له يادو هېوادونو سره د ډيپلوماټيکو اړيکو پر بنسټ خپلې تجربې او تحليلونه هم سره اوډلي دي.



ليکوال په ډېرې ځيرکۍ سره په افغانستان کې د دواړو هېوادونو (افغانستان او پاکستان) د اقتصادي ښکېلتيا ترمنځ توپير څرګند کړی دی. د سوداګريزو لارو او ټاپي په څېر لويو پروژو او پر دريو واړو هېوادونو يې د اغېزو په اړه هم بحث کړی دی.

د دغه کتاب لوستل د هر هغه چا لپاره اړين دي، چې غواړي د سيمې د وروستي تاريخ او مهمو سياسي لوبغاړو په اړه په ښه توګه وپوهېږي.

مينه وال کولای شي ياد کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لويو کتابپلورنځيو څخه په مناسب قيمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | ليکوال / ژباړن | بيه |
|---|---|---|---|
| ۱ | هېڅ شی هېڅ ارزښت نه لري! | جېن ټېلر | ۱۰۰ؚ |
| ۲ | تور بنګړی( ناول ) | اجمل پسرلی | ۱۰۰ؚ |
| ۳ | مات غږ | اناهيتا روهي | ۱۵۰ؚ |
| ٤ | د شهيد امام حسن البنأ خاطرې | محمدنواب خوښ | ۲۵۰ؚ |
| ٥ | I Steve, steve jobs in his own words | steve jobs | ۱۵۰ؚ |
| ٦ | په 1897ز کال کې د برتانوي ښکېلاک پر ضد د ختيځو پښتنو پاڅون | محمد طاهر کاڼې | ۱۰۰ؚ |
| ۷ | اسلامي معلومات لومړی ټوک | الياس عادل | ٦۰ؚ |
| ۸ | اسلامي معلومات دويم ټوک | | ٦۰ؚ |
| ۹ | اسلامي معلومات درېيم ټوک | | ٦۰ؚ |
| ۱۰ | شل نوبل وړونکي ادبيات | خالد اقبال ياسر | ۱۰۰ؚ |
| ۱۱ | چارلي چاپلين ژوند فکر او هنر | اسماعيل آشنا | ۱۰۰ؚ |
| ۱۲ | همه چيز عالی است | لوبيزل . هی | ۱۵۰ؚ |
| ۱۳ | نامزدی هدفمند | استيون کارتر | ۱۳۰ؚ |
| ١٤ | آيين سخنوری | محمد علی فروغی | ۲۷۰ؚ |
| ۱٥ | بنسټيز حقوق او سياسي بنسټونه | دوکتور محمد طاهر هاشمي | ۱۵۰ؚ |
| ۱٦ | توشاهکاری دختر | ريچل هاليس ليلا رعيت | ۲۳۰ؚ |
| ۱۷ | څنګه درس ووايو چې هېر يې نکړو؟ | پوهاند ميرمحمد ظاهر حيدری | ۱۵۰ؚ |
| ۱۸ | د پروګرام ليکنې بنسټونه | نصير احمد نور | ۲۵۰ؚ |
| ۱۹ | English Vocabulary in use 3rd edition | CAMBRIDGE | ۱۰۰ؚ |
| ۲۰ | ENGLISH VOCABULARY IN USE PRE-INTERMEDIATE AND INTERMEDIATE 4TH | | ۱۸۰ؚ |
| ۲۱ | ENGLISH VOCABULARY IN USE UPPER INTERMEDIATE 4TH | | ۱۸۰ؚ |
| ۲۲ | ENGLISH VOCABULARY IN USE ADVANCED 3rd | | ۲۰۰ؚ |
| ۲۳ | Longman Academic Writing Series 1 | pearson | ۲۷۰ؚ |
| ۲٤ | Longman Academic Writing Series 2 | | ۲۸۰ؚ |
| ۲٥ | Longman Academic Writing Series 3 | | ۳۵۰ؚ |
| ۲٦ | Longman Academic Writing Series 4 | | ۳۵۰ؚ |
| ۲۷ | Longman Academic Writing Series 5 | | ٤۵۰ؚ |
| ۲۸ | عمومي بيالوژي (نباتي) | پوهيالی زيارت ګل منصور | ۱٦۰ؚ |
| ۲۹ | په ټولنېزو علومو کې څېړنه کړنلاره | فريد الله فريد | ٦۰ؚ |
| ۳۰ | افغانستان پاکستان هندوستان يوبنسټيز بدلون | ډاکټر شيدامحمد ابدالي | ۲۵۰ؚ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړيکه ونيسئ**

پته: دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ — اړيکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۳۰ |
| € | ۸٦,۹۰ |
| Rp. | ٤۹۹ |
| ₹ | ۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۰,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیاني

# د اقتصادي سیاستونو مفهوم او پېژندنه

**لیکنه: ګلاب بهار – درېیمه برخه**

**د اقتصادي سیاستونو موضوع**

اقتصادي سیاستونه له ټولو همکاریو، پلانونو او عملکردونو څخه دي یوه معلومه ساحه تر اقتصادي نفوذ لاندې راولي. دا ساحه ممکن د یو هېواد برخه وي، په کومه ساحه کې چې اقتصادي پرمختیایي پلانونه تطبیق کېږي او یا یو دولت په بر کې ونیسي او یا هم ډېرې هېوادونه په دغه اقتصادي پلان کې شامل اوسي.

په دغه ځای کې باید د دې خبرې یادونه وکړو چې اقتصادي سیاستونه په پلان ګذارۍ کې یوازې په دولتي مقاماتو پورې نه دي منحصر؛ بلکې شخصي او خصوصي شرکتونه، تصدۍ او همدارنګه په ملي سطحه افراد د اقتصادي سیاستونو په رامنځته کېدو کې د پام وړ رول لري. دا ځکه چې د یوې خصوصي کمپنۍ مالک یا رییس په مستقیم یا غیر مستقیم ډول له منطقوي سیاست څخه استفاده کوي او د نوموړې منطقې اصلي حاکم بلل کېږي. همدارنګه که چېرې یو متشبث یا متصدي یوه مشخصه اقتصادي رشته د قېمتونو د ټاکلو، مزدونو یا د پانګې اچونې له لارې تر څېړنې لاندې نیسي، نو دا په حقیقت کې له سکټوري سیاست څخه استفاده کوي چې ورته سیاست او تګلاره د سکټوري اقتصادي سیاست په نوم یادېږي.

نو ویلی شو چې دا او دې ته ورته نور سیاستونه لکه زراعتي سیاستونه، صنعتي سیاستونه، تجارتي سیاستونه، مالي او پولي سیاستونه هغه سیاستونه دي چې که څه د عملي کولو اساسي ارګان یې دولت دی، خو بیا هم خصوصي افرادو او متشبثینو ته هم په کې ضرورت تر سترګو کېږي. په هر صورت، د اقتصادي سیاستونو د پوهاوي او له هغو موضوعاتو څخه په لاندې توګه یادونه کوو:

الف: انسان د اقتصادي فعالیتونو د مرکز په توګه
ب: اقتصادي جوړښت
ج: د اړیکو د ټینګښت د څرنګوالي معلو مو ل
د: د اقتصادي لړۍ تنظیمول.

الف: انسان هغه وخت د اقتصادي فعالیتونو مرکز بلل کېږي، کله چې د اقتصاد شکل او په اقتصادي دوران کې برخه واخلي او اقتصادي فعالیتونه سر ته ورسوي. یانې په یو اقتصادي دوران کې هغه وخت له شخص څخه خبرې کېږي، کله چې شخص په اقتصادي معاملاتو کې د یوه مبتکر په توګه کار وکړي. د اقتصادي پلان جوړونکی او عملي کوونکی وي او د نه عملي کېدو په صورت کې، د اقتصادي پلان د تغیر، نوښت او ابتکار واک ولري. پس له دې امله د اقتصادي سیاستونو پوهه او علم هغه زده کړه ده، چې په اقتصادي معاملاتو کې د یو انسان اقتصادي فعالیتونه ښیي او نوموړي ته دا لارښوونه کوي، څو له هغو غوره لارو چارو څخه استفاده وکړای شي، چې له یوې خوا مثمرې او له بلې خوا د انعطاف پذیرۍ وړ اوسي.

ب: په اقتصادي سیاستونو کې اقتصادي زېربناوې هغه وخت د بحث وړ وي، کله چې په ټولنه کې مشخص اقتصادي ضروریات پېښ شي او د نوموړو ضرورتونو د رفع کېدو او تایید لپاره څرنګوالی وټاکل شي. له دې بحث څخه داسې نتیجه اخیستل کېږي چې په ضمن کې د هر فرد اقتصادي فعالیت په نهایت کې د مادي او معنوي احتیاجاتو او ضروریاتونو رفع کول وي او دغه احتیاجات او ضروریات دي، چې انسان فعالیت، نوښت او ابتکار ته هڅوي.

ج: د اړیکو د ټینګښت څرنګوالي په صورت کې ویلی شو چې هېڅ فرد نه شي کولای، چې په یوازې توګه د ژوندانه اړتیاوې او احتیاجات رفع کړي، چې په دې اساس د ټولنو او افرادو ترمنځ پیوستون او اړیکې هغه څه دي چې کولای شي اجتماعي اړیکې رامنځته کړي او په نتیجه کې د بشري ټولنې اجتماعي طریقه او شکل په اقتصادي او اجتماعي اړیکو پورې تړاو پیدا کړي، چې په دې اساس سره ویلی شو چې ذالبیني اړیکې، اقتصادي تعاملات او د اقتصادي جامعې تهداب کېښودل چې د خلکو په اقتصادي او اجتماعي اړیکو پورې تړاو لري، د اقتصادي سیاستونو یوه مهمه موضوع بلل کېږي.

د: د اقتصادي شخص له موجودیت وروسته، د یوه اقتصادي نظام برقرارول او د اقتصادي چارو منظم تر سره کول دي، چې په هغه کې د اقتصادي نظام موجودیت او اقتصادي توازن رامنځته کول لازمي عنصر دی. په حقیقت کې اقتصادي نظام په اقتصاد کې توازن دی او د اقتصادي نظام توازن او اقتصادي توازن تامینول د قوانینو د طرحه کولو، له مداخلو پرته په ټولنه کې د تطبیق وړ نه دي، چې له کبله یې د اقتصادي نظام تطبیق کول او د اقتصادي توازن لاسته راوړل هم د نورو اهدافو په څېر د اقتصادي سیاستونو یوه ځانګړې موضوع تشکیلوي. په دې اساس ویلی شو چې د اقتصادي نظام رامنځته کول هغه موضوع ده چې اقتصادي سیاستونه یې ځانته راجلبوي او د اقتصادي سیاستونو توازن، د اقتصادي سیاستونو د عمده مسایلو او موضوعاتو هسته تشکیلوي.

**د اقتصادي سیاستونو ماهیت**

دا چې اقتصادي نظریات د ټولنې د ضروریاتو او احتیاجاتو مطابق رامنځته شوي دي، کوم چې په ټولنه کې د اجتماعي ژوند اسانتیاوې برابروي او انساني ژوند ته د تکامل مسیر ورکوي؛ نو د دغو ضروریاتو او احتیاجاتو حل د یوې ټولنې په اقتصادي او اجتماعي امکاناتو پورې اړه لري، چې د دې لپاره د اقتصادي وضعې معلومول، اقتصادي او اجتماعي رشد، د اقتصادي او اجتماعي نظام موجودیت ډېر اړین او کلیدي عنصر بلل کېږي.

دا چې په حقیقت کې د راتلونکې اقتصادي وضعې تحلیل د یوې ټولنې د ملي اقتصاد د تیورۍ له مخې، د اقتصادي سیستم او اقتصادي سیاستونو د کوشش له مخې صورت نیسي، څو د اقتصادي او اجتماعي فعالیتونو د پیل لپاره او همدارنګه د اجتماعي نظامونو د تعین او د ملي اقتصاد د توازن لپاره مناسب شرایط برابر او پیدا کړو، پس نه شو کولای چې نوموړې فعالیتونو بدون له اقتصادي سیاستونو پرمخ بوزو. اقتصادي سیاستونه د علم او پوهې له نظره د هغو واقعي مطالبو او کوششونو مجموعه ده، چې هدف یې د اقتصادي نظام جوړول دي او داسې تدابیر او پلانونه مطرح کړي، څو د اقتصادي مسایلو اړوند ستونزو ته پکې حللارې درج کړای شي.

له بلې خوا که د اقتصادي سیاستونو ماهیت ته نظر واچوو، نو ویلی شو چې هېڅ هېواد نه شي کولای چې له اقتصادي سیاستونو پرته ملي اقتصاد په درست ډول تنظیم کړای شي. اقتصادي سیاستونه دي چې د یو هېواد په سطحه د ټولو اقتصادي او اجتماعي فعالیتونو د تنظیم دنده پر غاړه لري او هڅه کوي څو هغه ناخوالې چې د یو هېواد په ملي اقتصاد کې صورت کې نیسي، د پای ټکی کېږدي. همدا راز اقتصادي سیاستونه دا دنده پر غاړه لري، څو وکولای شي په ملي سطحه د ګروپونو ضروریات په داسې شکل سره ګروپ بندي کړي، چې نوموړې ګروپ بندۍ د دې لامل وګرځي چې د ټولنو او ګروپونو ترمنځ تضاد او تصادم ته د پای ټکی کېږدي.

**د اقتصادي سیاستونو پر مخ وړونکې منابع**

د اقتصادي سیاستونو اصلي او اساسي منابع اقتصادپوهان دي، چې له یوې خوا د اقتصادي سیاستونو سرچینې بلل کېږي او له بلې خوا د دولتي حاکمیت په شان هدایت کوونکي یا تصمیم نیوونکي هم ورته ویل کېږي؛ خو ځینې اجتماعي نهادونه او اداري هم شته چې پر اقتصادي سیاستونو باندې نفوذ لري. دوی بدون له دې چې اساسي سرچینې وبلل شي، بلکې د خپل قدرت نه په نااستفادې سره اقتصادي ډګر ته را دانګي او د اقتصادي سیاستونو پر قانوني عمل تاثیرات اچوي. لکه څرنګه مو چې د «اقتصادي سیاستونو ماهیت» په نوم مطلب کې هم یادونه وکړه. د دې لپاره چې د اقتصادي سیاستونو منابع او سرچینې په دقیقه توګه وپېژنو، په لاندې توګه له هرې سرچینې څخه یادونه کوو:

الف- تصمیم نیوونکي: تصمیم نیوونکي له هغو دولتي نهادونو او یا هغو اداراتو څخه عبارت دي چې د اقتصادي سیاستونو تصمیمونه ایجادوي او د عملي کېدو لپاره یې لارې چارې سنجوي، چې دا ډول ټولنې او ګروپونه په مجموع کې په نظام، جوړښتونو او پر نورو اقتصادي جریانانو باندې مستقیم تاثیر اچوونکی رول لري او په لاندې توګه یې یادولی شو:

۱- مقننه قوه: مقننه قوه د اقتصادي سیاستونو لپاره قوانین تصویبوي او د اقتصادي پرمختیا لپاره حدود ټاکي.

۲- اجرایه قوه: اجرایه قوه د اقتصادي سیاستونو لپاره د قانوني اختیاراتو په چوکاټ کې جاري سیاستونه ټاکي.

۳- مرکزي بانک: د مرکزي بانک دا دنده ده، څو د پیسو قېمت د ثبات د ساتلو او د پیسو د ورکړې له لارې عمومي اقتصاد تامین او وساتي. دا بانک هغه وخت د اقتصادي سیاستونو تصمیم نیوونکی کېدای شي، کله چې د دولت له احاطې او تسلط څخه اقتصادي سیاستونه وتلي وي.

۴- قضایه قوه: قضایه قوه هم د خپلو صلاحیتونو په حدودو کې له اقتصادي سیاستونو څخه د نظارت کار کوي. د بېلګې په ډول، ستره محکمه او یا ورته ارګانونه کولای شي د مقننه قوې یو لړ قوانین او فیصلې الغا او یا بې اعتباره کړي، څو وکولای شي اقتصادي سیاستونه تر تاثیر لاندې راولي.

۵- هغه اقتصادي سازمانونه چې د ګرځنده او خصوصي اقتصادي چارې پرمخ بیایي او په حقوقي لحاظ یې ظهور کړی وي، لکه د سوداګرۍ او صنایعو خونه، لاسي صنعت او په زراعت کې ځینې اقتصادي فعالیتونه.

٦- د کارګرانو اتحادیې او یا په بازارونو کې د کسبګرو اتحادیې هم کولای شي، چې د اقتصادي سیاستونو چلوونکي وبلل شي.

۷- د دولتونو په سطحه اقتصادي سایستونه، چې د دولت واک او اختیار ورکړل شوی وي او له خپل دولتي قلمرو څخه په زیاته اندازه د خپلو اقتصادي فعالیتونو ساحه لري، دا ډول اتحادیې هم کولای شي چې د خپلو اقتصادي فعالیتونو او د اقتصادي سیاستونو یوه برخه بل هېواد ته انتقال کړي. دغه اتحادیې عبارت دي له اروپایي اتحادیې، افریقایي او نور بین المللي سازمانونه.

ب- د نفوذ کارکوونکي: علاوه پردې چې د اقتصادي سیاستونو تصمیم نیوونکي خپل کارونه پرمخ بیوسي، د اقتصادي سیاستونو د نفوذ یا زیاتوالي کارکوونکي او عاملان هم شته. دغه عاملان د دولت د جبري انحصار له لارې خپل اقتصادي سیاستونه پر مخ نه وړي؛ ولې په سیاسي تصمیم نیوونه کې تاثیر لرونکی اقدام اخلي. لکه د رسنیو له لارې، د ګوندونو له لارې، د اتحادیو له لارې او همدارنګه د علماوو او پوهانو له لارې د خپلو اقتصادي سیاستونو د پلي کېدو لار پیدا کولای شي.

ج- د عملکرد مرحله: د اقتصادي سیاستونو د منابعو د نسبي پېژندنې له لارې څلور مرحلې باید په نظر کې ونیول شي:

لومړی: برنامه
دویم: تصمیم نیوونه
درېیم: تر سره کول
څلورم: نظارت

لومړی- برنامه: د اقتصادي سیاستونو د حل مسایل، زیات په تدارکاتو پورې تړاو لري چې له پخوا د ضرورت مواد تهیه کوي او دغې مرحلې ته د برنامې جوړېدل ویل کېږي.

دویم- تصمیم نیوونه: د اقتصادي سیاستونو دویمه مرحله چې د پخوانیو تدارکاتو له لارې د تصمیم نیولو چارې پیل کېږي، د تصمیم نیوونې په نوم یادېږي.

درېیم- تر سره کول: کله چې د تدارکاتو له لارې تصمیم ونیول شي؛ هماغه دي چې وروسته له هغې د هغه تر سره کېدل پیلېږي او همدغې مرحلې ته د تر سره کېدو مرحله ویل کېږي.

څلورم- نظارت: له تدارکاتو او تر سره کېدو وروسته، څلورمه مرحله د نظارت پیل کېږي، چې په دغه نظارت کې یوازې له لاسته راوړنو څخه خبرتیا ده او له تېرو اقتصادي سیاستونو(کوم چې په دې برنامه کې د اقتصادي سیاستونو عاملان یې پرمخ بیایي) سره مقایسه ده.

**د اقتصادي سیاستونو اهداف**

اقتصادي سیاستونه لکه څرنګه مو چې مخکې ذکر کړل هغه کوښښونه او هلې ځلې دي، کوم چې په یوه سیمه یا منطقه کې ټول جریانات او وقایع تر خپل اثر لاندې راوستل غواړي. که څه هم دا تعریف قطعي یا نهایي شکل نه لري او لاندې په دې اړوند یادونې هم شوې دي. اقتصادي سیاست د فعالیت له مخې په لاندې ډول ډلبندي کېږي:

۱- که چېرې اقتصادي هلې ځلې د اقتصاد په یوه معینه سیمه پورې تړاو ولري او کېدای شي دا سیمه ولسوالۍ، ولایت، هیواد او څو هیوادونه په پلان کې ولري، نو په دې صورت کې اقتصادي سیاست بست نیمي ته تفاوت کوي، په دې مانا چې اقتصادي سیاست د څو هیوادونو او یا د یوې مړې سیمې په کچه لکه ولسوالي، کلي چې منطقوي سیاست ورته ویل کیږي، وڅېړل شي.

۲- همدا شان که چیرې اقتصادي هلې ځلې د اقتصاد په یوه معینه برخه پورې تړاو ولري، نو په دې صورت کې اقتصادي هلې ځلې د سکټوري اقتصادي سیاست په نوم څېړل کیږي. لکه د زراعت، صنعت، تجارت او یا ترانسپورټ او داسې نور سکټورونه په دې برخه کې ښه مثال جوړېدای شي. خو په هر حال سکټوري، منطقوي، ملي او بین المللي اقتصادي سیاست د کل په صورت کې د عمومي سیاست یوه برخه ده، کوم چې د مرکزي اقتصادي جریان په نظم کې خاص کردار تر سره کوي. له پورته یادونو څخه په استفادې سره کولای شو، چې د اقتصادي سیاست حدود د تصدي اقتصاد د سیاست پر وړاندې روښانه کړو:

دا چې د تصدۍ رییس یا مسوول یوازې د مربوطه تصدۍ مشر یا مسوول نه وي، بلکې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د سیمې حاکم هم ګڼل کیږي او دا هم باید وویل شي چې اقتصادي تدابیر یوازې په دولت پورې تړاو نه لري، بلکې په دې کې د تصدیو اقتصادي تدابیر هم موثریت لري، خو دا باید ومنو چې د دولت کردار پکې برجسته وي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer Daily

New Vision, New Journey








چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لړم لومړی | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۲۳مه | ۴۵۰مه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | ۲۳ | ۲۵ | ۲۳ | ۲۸ | ۲۵ |
| ۵ | ٤ | ۷ | ۹ | ۱۵ | ۱۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤۱ | لمر ختل ۰٦:۰٤ | ماسپښین ۱۱:۳۹ | مازیگر ۰۲:٤٦ | ماښام ۰۵:۱۲ | ماخوستن ۰٦:۳٦

## نړی




## روسیه خواستار نابودی پایگاهای داعش در افغانستان شد




وزارت خارجۀ روسیه ضمن محکوم کردن حمله بر یک مسجد در ننگرهار، خواستار ارتقای موثریت مبارزه با «تروریزم» به خصوص نابودی پایگاه های داعش در افغانستان شده است.
این در حالی است که چند روز قبل حین ادای نماز جمعه گذشته، در مسجد قریه جودره ولسوالی هسکه مینه ولایت ننگرهار انفجاری رخ داد. به اساس گزارش ها در این انفجار ۷۲ تن کشته و بیش از سی تن دیگر زخم برداشتند.
مسئولیت این انفجار را که هنوز نوعیت آن نیز مشخص نیست، تا حال کدام گروهی بر عهده نه گرفته است. طالبان مسلح، سازمان ملل متحد، ناتو و سفارت امریکا در کابل این حمله را تقبیح نموده اند.
در خبرنامه ریاست اطلاعات و مطبوعات وزارت امور خارجۀ روسیه این حمله محکوم و جنایت خوانده شده است.
منبع نوشته است: «جای شک نیست که هدف این حمله نگه داشتن جامعه افغانستان در بیم و هراس بوده است. صلح مستحکم در جمهوری اسلامی افغانستان که طرف های درگیر در جنگ در کشور و جامعه جهانی در این اواخر مساعی چشمگیری را برای رسیدن به آن به خرچ می دهند، در ریشه در مخالفت با منافع تروریستانی قرار دارد که عمیقاً تلاش می نمایند تا جای پای برای خود در افغانستان باز نمایند».
منبع می افزاید: «از حکومت افغانستان میخواهیم تا تدابیر فوری را جهت تأمین امنیت شهروندان غیرنظامی و ارتقای مؤثریت مبارزه در برابر عناصر تروریزم در خاک افغانستان، در قدم نخست برای نابودی پایگاه های شبکه بین المللی تروریستی داعش روی دست بگیرد».

## د کاناډا لومړي وزیر جسټن ټروډو یوځل بیا د دغه هېواد ټاکنې گټلې دي



د کاناډا لومړی وزیر جسټن ټروډو د دوشنبې د ورځې په ټاکنو کې گټونکی اعلان شوی دی. نوموړي ویلي، د هېواد وگړو یې د ده په بیا ټاکلو سره یوه پرمختللي پروگرام ته رایه ورکړې ده.
نوموړي په مونټریال کې د لیبرال گوند په مرکز کې ویلي، له اقلیمي بدلون سره مبارزه به یې د دولت لومړیتوب وي. نوموړي دغه بدلون د اوسني وخت تر ټولو لویه ننگونه بللې ده.
د راپورونو له مخې، د نړدې ټولو رایو له شمېرلو سره د ټروډو گوند د پارلمان ډېرې څوکۍ گټلې، خو اکثریت یې نه دي گټلي.
د هغه گوند د ۱۵٦ څوکیو په گټلو له مطلق اکثریت ۱۴ څوکۍ کمې گټلې دي. که هغه دغه پاتې څوکۍ گټلې وای، پرته له دې چې له کوم بل گوند سره جوړجاړی وکړي، یوځل بیا د کاناډا ولسمشر ټاکل کېدو، خو اوس به نوموړی اړ وي چې د ۱۴ څوکیو لپاره له بل گوند سره هوکړه وکړي.
د جسټن ټروډو سیال محافظه کاره گوند ۱۲۲ څوکۍ گټلې دي. دغه گوند په تېرو ټاکنو کې ۹۵ څوکۍ گټلې وې.
د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ په گډون، د نړۍ ډېرو مشرانو ښاغلي ټروډو ته مبارکي ویلې ده. د کاناډا لومړي وزیر له خلکو مننه کړې ده. نوموړي هغوی ته په خطاب کې چې ده ته یې رایه نه ده ورکړې، ویلي، د ده دولت به د ټولو لپاره کار کوي.


## سعودي: که ایران په سیمه کې روان سیاست بدل نه کړي، درنه بیه به یې پرې کړي



د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیر عادل الجبیر ویلي، د یاد هېواد د تېلو پر تاسیساتو په برید کې ایران لاس لري.
هغه زیاته کړې، دوی تر څېړنو وروسته دې پایلې ته رسېدلي، کومې وسلې چې په یاد برید کې ترې استفاده شوې، ایرانۍ دي او دوی به د یاد هېواد د دغه تېري پر وړاندې چوپ پاتې نه شي. الجبیر ویلي، دوی جگړه نه غواړي، خو ایران ته به د دغه ډول ورانکارو او تروریستي اعمالو اجازه ورنه کړي. هغه ویلي، ایران باید په دې پوه شي چې دا کړنې یې په گټه نه دي او په سیمه کې باید خپل سیاستونه عادي کړي، گڼې درونډ پور به یې پرې کړي. دا په داسې حال کې ده چې څه موده وړاندې د سعودي د تېلو پر تاسیساتو هوایي بریدونه وشول چې پراخ مالي زیانونه یې واړول. تر دغه برید وروسته په نړیوال بازار کې د تېلو په قیمتونو کې هم د پام وړ بدلونونه راغلل.
که څه هم هغه مهال د برید مسوولیت د یمن حوثیانو پر غاړه واخیست، خو د امریکا په گډون، ځینو نورو هېوادونو ایران په دغه برید کې په لاس لرلو تورن کړ.
ایران بیا بیا دغه تورونه په وار وار رد کړي دي.

## ژوند

## له اړتیا ډېر څه وغواړئ!



کله چې خدای پاک خپل بنده گان پیدا کول، داسې یې جوړ کړل چې هرڅه یې د هغوی له اړتیا او وړتیا ډېر ورته په پام کې ونیول. موږ چې کله څو کسانو ته مېلمستیا کوو، که مو لس کسان را غوښتي وي، د پنځلسو کسانو تیاري ورته نیسو او وایو، خدای پاک ډېر لوی ذات دی.
دا سمه ده چې پر راکړل شوو شیانو باید شکر وباسو، خو د خدای پاک له دربار څخه باید ډېر څه وغواړو. ځکه دربار یې ډېر لوی دی. دا ستاسې تقدیر نه دی، بلکې دا د خدای پاک د پادشاهۍ د لوی والي ښکارندویي کوي. ایا غواړئ چې همداسې یو معمولي ژوند ولرئ؟ که غواړئ د ښه او پرمختللي ژوند څښتن شئ؟ تاسې پر خپل ژوند برلاسي او حاکم یاست. تاسې د ډېرو وړتیاوو لرونکي یاست. ځواکمن یاست. نوښتگر یاست او په هر کار چې لاس پورې کړئ، د تر سره کولو وړتیا یې لرئ. یوازې دا دعا مه کوئ چې ژوندي پاتې شئ، بلکې تر دې هم د زیات شي غوښتونکي شئ. کېدای شي ډاکټر تاسې ته ستاسې د روغتیا په اړه ښه زېرې ونه لري، خو بله لار هم شته. خدای پاک روغتیا ورکوونکی دی او خپله یې وعده درسره کړې چې روغتیا به درکوي.

## مېرمنې له زېږون وروسته څه وخت قدم ووهي؟



له طبیعي زېږون وروسته، میندې کولی شي هر وخت یې چې زړه وغواړي، قدم ووهي. هېڅ گواښ یې پر وړاندې نه پېښېږي، بلکې دغه څه لا ورته گټه رسوي. خو هغه مېرمنې چې د سېزارین د عملیات په وسیله یې ماشوم زېږولی وي، کېدای شي د دوی لپاره د جنرال او یا هم سپینال د بې هوښۍ ستنې کارول شوې وي. نو ښه ده چې له اتو یا دوولسو ساعتونو وروسته قدم وهل پیل کړي.

**له پرهارونو سره باید څه وشي؟**

هغه مېرمنې چې د سېزارین د عملیات له لارې یې ماشوم زېږولی وي، په لومړۍ اونۍ کې باید د خپلو ټپونو جدي خیال وساتي، ځکه که مېکروبي شي، ستونزې جوړوي، روغتیا یې له گواښ سره مخ کېږي او هغه ده چې د خپل ماشوم خیال نه شي ساتلی. ټپ باید پاک وساتل شي؛ نو له همدې کبله باید په ورځ کې درې ځلې ومینځل شي. د مینځلو لپاره باید نرې بتادین او پاکې اوبه وکارول شي. یانې نهه برخې اوبه او یوه برخه بتادین دې سره گډ کړای شي او زخمونه دې پرې پرېولل شي.